# مسير

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د مارچ درېيمه | ۶۹۰يمه گڼه


## کتاب

۴ مخ

### د يوې ځوانې نجلۍ خاطرې




د يادښتونو په يوه برخه کې ان د ژوند له سختۍ خبرې کوي، د خوړو کموالی، د جامو زړښت، له نيولو او وژلو ځخه ډار، وېره او انديښنه، ناروغۍ، درد او د وسلو د اوازونو درز او د هر کړاو او مصيبت يې ياد کړی دی.

### کرنې وزارت: په فراه کې ۵۳۱ مېوه لرونکي بڼونه جوړ شوي



د کرنې وزارت اړوند د کرنې د ودې او کليوالي پراختيا پروژې د نيالگيو اېښودو د پسرلني کمپاين په لړ کې په فراه ولايت کې ۵۳۱ نوي بڼونه جوړ کړي دي.
په دغو نويو بڼونو کې د انگورو ۲۸۴ جريبه، د انارو ۱۲۲ جريبه، د عنابو ۷۵ جريبه، د ناکو او الوچې ۵۰ جريبه متراکم بڼونه شامل دي، چې د خاک سفيد او پشت رود په ولسواليو کې جوړې شوي دي.
د ياد وزارت په خبره، ياد بڼونه په دې ولايت کې د کوکنارو د کرکيلې د کچې ټيټولو او د ارزښت لرونکو محصولاتو د دودولو په پار جوړ شوي دي.
دا په داسې حال کې ده چې له دې مخکې په ياد ولايت کې له ځمکې د خلکو محصولات يوازې کوکنار وو. ياد وزارت وايي، دوی به په دې ډول سره وکړای شي چې د کوکنارو د کرکيلې مخنيوی وکړي.

# ننگرهار کې د درېو خبريالانو وژل کېدل؛

## د خبريالانو د خونديتوب کمېټه: حکومت او امريکا دې يوازې د اعلاميو په خپرولو ځان نه خلاصوي



۳

### د خليلزاد په کتنو کې د دويم بُن بحث

۲ مخ

### اداري فساد د بنې حکومتوالۍ پر وړاندې اساسي خنډ

۲ مخ

### ولې افغانستان کې بهرنۍ تاوتريخوالي زيات شو؟

۳ مخ

## روبين: د افغان سولې په ټپه درېدلی بهير د جدي انديښنې وړ دی

د افغانستان د مسايلو څارونکي برنېټ روبين په خپلې يوې مرکې کې ويلي چې د سولې هوکړې تطبيق او په بين الافغاني مذاکراتو کې پرمختگونه په بشپړه توگه درېدلي او دا مسئله د جدي انديښنې وړ ده.
نوموړی وايي، دغه هوکړې گڼې نيمگړتياوې درلودې چې له همدې امله يې عملي کول په ټپه درېدلي دي. د ده په وينا، امريکا له طالبانو سره د بنديانو د خلاصولو ژمنه کړې وه، په داسې حال کې چې دا د افغان حکومت صلاحيت و، دغه راز امريکا له طالبانو سره دا ژمنه نه ده کړې چې مشران به يې له تورلېست وباسي، ځکه دا هم د افغان حکومت صلاحيت دی او يوازې دوی له ملگرو ملتونو غوښتی شي چې دغه کسان له تور لېست و ايستل شي.
روبين هيله څرگنده کړې چې د امريکا نوې اداره ژر تر ژره د سولې پر هوکړه بيا کتنه بشپړه کړي او په دې برخه کې شته ستونزې او نيمگړتياوې له منځه يوسي.
د نوموړي دا څرگندونې داسې مهال دي چې د افغان سولې لپاره د امريکا ځانگړې استازي زلمي خليلزاد د سولې خبرو د پيلېدو لپاره سيمې ته خپل تازه سفر پيل کړی دی. نوموړي په تېرو درېو ورځو کې له افغان چارواکو او سياسيونو سره کتلي او له دغو کتنو وروسته نوموړی د سيمې يو شمېر نورو هېوادونو ته هم سفر کوي.

## مک کال: خليلزاد د امريکا او طالبانو په هوکړه کې د تعديل په موخه سيمې ته سفر پيل کړی




۵ مخ

## اندرابی: حکومت جنگی را اعلام نکرده و به ادامۀ روند صلح باورمند است



مسعود اندرابی، وزیر امور داخله افغانستان می‌گوید که حکومت جنگی را اعلام نکرده و به ادامۀ روند صلح با گروه طالبان باورمند است. آقای اندرابی می‌گوید که اگر در بهار جنگی دربگیرد، این به انتخاب طالبان خواهد بود.
وی در نشست گزارش دهی از برنامه‌های یک سال اخیر وزارت امور داخله، از ادامه بررسی‌ها در بارۀ تنش‌های ماه پیش در بهسود میدان وردک یاد می‌کند و می‌افزاید که علی پور در وزارت امور داخله و ریاست عمومی امنیت ملی پرونده دارد.
فرارسیدن فصل گرما و آنچه که آماده‌شدن طرف‌های درگیر برای رویارویی‌های تازه گفته می‌شود، از چندی بدین‌سو، بیشتر بحث‌برانگیز بوده؛ اما به‌روز سه‌شنبه، وزیر امور داخله به این بحث، به‌گونه دیگری می‌پردازد.
مسعود اندرابی - وزیر امور داخله گفت: «دولت افغانستان برای سالی که شروع می‌شود در حمل، هیچ‌نوع اعلام عملیات جنگی را نکرده. ما متعهد به این استیم و هنوز هم به همین فکر استیم که باب صلح و گفت‌وگو و مذاکره باید ادامه بیابد.»
در همین‌حال، وزیر امور داخله با تأکید بر ادامه بررسی‌ها در باره تنش‌های ماه پیش در بهسود میدان وردک، می گوید که علی‌پور در وزارت امور داخله و نیز ریاست عمومی امنیت ملی، پرونده دارد.
این در درحالیست که در برخی از ولایت‌های ناامن، نگرانی‌ها از احتمال افزایش خشونت‌ها با رسیدن بهار، بیشتر شده‌اند.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### د خلیلزاد په کتنو کې د دویم بُن بحث

د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد پرون هم په کابل کې خپلو لیدنو کتنو ته دوام ورکړی دی. نوموړي پرون له پخواني جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف او عبدالرشید دوستم سره کتلي دي. ویل کېږي چې دوستم په کابل کې له سیاستوالو سره د سولې په تړاو د یوې لویې غونډې خبرې هم شریکې کړي دي. د خلیلزاد او دوستم د لیدنې په اړه په خپره شوې اعلامیه کې د نورو مسایلو تر څنګ راغلي: «خلیلزاد دغه راز په لوړه کچه د یوې غونډې په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې دا غونډه به د سولې پروسې له بریالیتوب سره مرسته وکړي».

دوستم د څه ډول لویې غونډې خبرې کوي؟

پوره یو کال وړاندې د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې په لاسلیک سره ژمنه شوې وه، چې په لسو ورځو کې به بین الافغاني خبرې پیلېږي. هغه وخت د بندیانو د خلاصون پر سر لانجه د دې سبب شوه چې دا پروسه اووه میاشتې وځنډېږي. اووه میاشتې وروسته بین الافغاني خبرې پیل شوې، خو هېڅ اساسي پرمختګ پکې ونه شو او تر اوسه یوازې پر کړنلاره او اصولو توافق شوی چې هغه هم ډېر ساده مسایل دي. داسې ښکاري چې د دوحې خبرې اوږدې او بې پایلې دي او تمه هم نشته چې کوم مهم پرمختګ پکې وشي. له همدې امله د دغو خبرو د بدیل په اړه هڅې روانې دي. امریکا غواړي په ۲۰۰۱ز کال کې د بُن په شان یوه لویه غونډه جوړه کړي. اوس په دوحه کې د ځینو مطرحو سیاسي اړخونو استازي ګډون لري او د ځینو پکې نشته، خو امریکا غواړي د ټولو سیاسي جهتونو مشران یوې لویې غونډې ته را وبولي او هلته د افغان سولې په اړه اساسي پرېکړې وشي. د دې غونډې ګډونوال به د مطرحو سیاسي اړخونو تصمیم نیوونکې مشران وي او دوی به له طالبانو سره د افغان سولې په تړاو وروستۍ پرېکړې کوي.

اوس چې خلیلزاد په کابل کې په لوړه کچه د کومې لویې غونډې د جوړېدو په اړه خبرې کوي، هغه بُن ته ورته غونډه ده. که څه هم په بین الافغاني خبرو کې ډېر او مهم مسایل شته او په لنډ وخت کې یې حل کول هم ستونزمن دي، خو ویل کېږي چې امریکا له وړاندې د افغاني سولې لپاره یوه طرحه جوړه کړې او په دې لویه غونډه کې به یې له ګډونوالو سره شریکه کړي. په دې طرحه کې ښایي څه واړه بدلونونه راشي، خو ښکېل اړخونه به اړ ایستل کېږي چې پرې توافق وکړي. په ۲۰۰۱ز کال کې چې څه ډول په بُن غونډه کې امریکا هر څه رهبري کول، دا ځل به په لږ توپیر بیا هم همغسې کار کوي.

دا ښه ده چې ټول افغان سیاسي مشران را ټول شي او د سولې لپاره پر یو پراخ، جامع او هر اړخیز تړون سره یوه خوله شي. د دوحې د خبرو پر ځای به دا اغېزناکه لاره هم وي، خو که د دې غونډې هر څه بیا د امریکا په لاس کې وي، نو څه ډول چې په ۲۰۰۱ز کال د بُن غونډې افغانستان امن او باثباته نه کړ، دغسې به دا غونډه هم ستونزې حل نه کړي. له همدې کبله ښکاره ده چې افغانان خپله پرېکړه وکړي او د امریکا په ګډون د بل چا تر مدیریت او رهبرۍ لاندې پر مسایلو بحث او پرېکړې ونه کړي.

# اداري فساد د ښې حکومتوالۍ پر وړاندې اساسي خنډ

لیکوال: نصیب جان یوسفي

اداري فساد پرمختللي هېوادونه او هغه هېوادونه، چې د پرمختګ په حال کې دي، اغېزمنوي؛ اقتصادي پراختیا فلجوي، د پانګونې مخه نیسي او د بېکارۍ ګراف لوړوي.

د فاسد کلمې لفظي مانا (بربادي) ده، دا لاتیني کلمه لومړی د ارسطو لخوا او وروسته د سیسرو لخوا کارول شوې وه.

اداري فساد: فساد د اصلاح ضد کلمه ده، چې لغوي مفهوم یې خرابوالی او وروستوالی دی. د قانون خلاف هغه عمل ته وايي چې د دولتي کارکوونکو او د عامه خدمتونو د نورو مؤظفینو لخوا د شخصي ګټو او مقاصدو یا ډله‌ییزو اهدافو په خاطر تر سره کیږي. اداري فساد له منابعو څخه ناوړه استفاده کول دي، چې د ټولنې د نارضایتۍ او وروسته پاتې‌والي سبب ګرځي.

د فساد ویی له هغه مفهوم سره چې پکې فساد ځای نیولی وي، د پسوند په ډول راځي. لکه: اداري فساد، مالي فساد، اخلاقي فساد، اجتماعي فساد او...

اجتماعي فساد هر هغه عمل ته ویل کیږي، چې د ټولنې د نظم له منځه وړونکی وي، یا هغه عمل چې په ټولنه کې د ګډوډیو د ناسم عدالت سبب کیږي، د ټولنې د عمومي مصلحت خلاف وي او ټولنیزو نابرابریو او بې عدالتیو ته زمینه برابروي.

که د یو چا اخلاق خراب وي، د بېلګې په ډول، پردیو ښځو ته په بد نظر ګوري او یا هم د فاعل او یامفعول په حیث له ناروا لارو څخه په استفاده د خپلو غرائزو د پوره کېدو هڅه کوي، اخلاقي فساد بلل کیږي.

مالي فساد بیا د پیسو غلا، اختلاس، ناسم مصرف، په شرکت، اداره، دوکان او یا بانک کې د پیسو پټول، کم و زیات حسابولو او د شخصي استفادې لپاره کارولو ته وايي.

اداري فساد په یوه اداره کې خراب کار او ناوړه استفادې ته ویل کیږي، چې ځان ته انواع لري.

له خپل موقف څخه ناسمه ګټه اخیستنه اداري فساد دی.

کار د اهل پرځای نا اهل چې وړ یې نه وي که هغه اشنا، دوست او یا ملګري ته وي، سپارل هم اداري فساد دی او د کارونو ځنډول هم د ادارې د وروستوالي مانا لري.

دا نږدې شاوخوا شل کاله کېږي، چې په افغانستان کې شته حاکمان او واکمنان د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې ژمنې کوي او د دې لپاره ډول ډول تېر ایستونکي فعالیتونه او بې ځایه ژمنې کوي؛ خو پایله یې منفي او د اداري فساد ګراف ورځې تر بلې لوړوي.

زموږ ګران هېواد افغانستان لکه څنګه چې د نشه‌یي توکو په تولید، قاچاق، جګړه او ترهګریزو فعالیتونو کې لومړی مقام لري، په همدې ډول په نړۍ کې د اداري فساد په برخه کې هم تر ټولې نړۍ مخکې دی او لومړی مقام لري.

دا چې د افغانستان مظلوم ولس به له دې ناوړه او پرمختګ وژونکې ستونزې تر کومه ځوربېږي؛ دا لا نه ده مالومه، ځکه چې دلته حاکمان تر ټولو ژور او پلان جوړونکی لاس لري.

که څه هم په ټولو نړیوالو کنفرانسونو او نړیوالو مرسته کوونکو هېوادونو کې د هیوادونو مشران له افغان چارواکو څخه د اداري فساد د مخنیوي لپاره ژمنې اخلي او ژمنې کوي؛ خو بیا هم په اداري فساد کې د دې پر ځای چې مخنیوی یې وشي او یا لږوالی پکې راشي، زیاتوالی پکې راځي او ټولې خبرې بر عکس تامیږي.

زموږ زیاتره چارواکي او واکمنې څېرې په دې بوخت دي، چې څه ډول عامه ملکیتونه، د خلکو شخصي شتمنۍ، ملکیتونه او نړیوالې مرستې له ولس څخه په مختلفو او ناروا لارو خپلې کړي.

په نظام کې شته اقتصادپوهان چې له نورو بهرنیو هېوادونو څخه راغلي او د خپلو غلطو تیوریو له امله یې افغانستان له یوه ستر اقتصادي ناورین سره مخ کړی دی؛ دوی د دې پر ځای چې د خپلو پلانونو د عملي کولو له امله په هېواد کې وزګارتیا او لوږه له منځه یوسي، بدبختانه برعکس د دوی ناوړه پلانونه د دې سبب شوي دي، چې په هېواد کې د وزګارو کسانو شمېر لاپسې زیات او په ښارونو کې د ګدایانو لښکرې جوړې شوې دي. ښایي په ښارونو کې داسې سیمه نه وي چې ګدایان پکې په سوال کولو اخته نه وي، د رسنیو د ارقامو له مخې، د اداري فساد او د شته ظالمو حاکمانو له امله په هېواد کې د لوږې کچه ۷۲ سلنې ته لوړه شوې.

په هېواد کې ډېری ځوانان د بېکارۍ له امله سر ټکوي، چې له مخې یې د دوی ژوند تریخ شوی. دوی وايي، د همدې اداري فساد کار اهل کار ته نه سپارلو له امله دوی اړ کېږي، چې له هېواد څخه بهر په غیر قانوني توګه نورو هېوادونو ته مهاجرت وکړي او هلته د ژوند د خوندیتوب په موخه د عایداتو یوه وسیله لاسته راوړي.

ډېر ځوانان چې خپلې زده کړې یې د لیسانس په کچه په ډېر زحمت او د هر ډول ستونزو په مقابل کې سرته رسولې دي، په اوس کې ځانونه د نالوستو او ان تر دې چې د سوالګرو په لېست کې حسابوي او حتی پیغورنه او بدې خبرې هم په ځان مني. نالوستي ورته وايي چې له تاسو خو موږ هم ښه یو چې پرته له زده کړو او کړاوونو ځان ته روزګار پیدا کولای شو، دا او دې ته نورې ورته بېلګې د اداري فساد پایله ګڼلی شو.

په تېرو کلونو کې په نظام کې شته افرادو او ښامارانو د افغانستان د خلکو او د نړیوالې ټولنې د تېر ایستلو لپاره د فساد د له منځه وړو او مخنیوي په خاطر لسګونه سازمانونه او ا داري رامنځته کړې او په دې اړه یې ډول ډول پروګرامونه اعلان کړل، چې پایله یې همغه تېر ایستل دي. دغو چارواکو له خپلو رسنیزو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره دا خلکو ته په ډاګه کړې ده، چې ګویا دوی د اداري فساد پر وړاندې په مبارزه کې صادق دي، یانې دوی ولس ته د فساد ضد عمل کړی، نه تمثیل چې دا تمثیل یې هېڅ سمه ریښه نه لري.

له بده مرغه هغه اداري چې د فساد د مخنیوي لپاره رامنځته شوې وې، په خپله د فساد پر زېرووونکو ادارو باندې بدلې دي، د دولت په چوکاټ کې عدلي ارګانونه چې د اداري فساد د له منځه وړلو مسوولیت یې یوه له دندو ده؛ هم په دې هکله پاتې راغلي دي او په خپله د فساد لویې منبع ګرځېدلي دي.

په هېواد کې ولس پر عدلي ارګانونو باندې د اداري فساد له امله باور له لاسه ورکړی دی، په ځینو مواردو کې ځینې خلک اړ کیږي، چې خپلې ستونزې د رواجونو له مخې هوارې کړي، چې تر ډېره د حق او نا حق تفکیک نه کوي، فقط د ستونزې حل یې د لنډې مودې لپاره وي، چې په پایله کې یې ډېرې نورې ستونزې هم رامنځته کېږي، په اکثرو ولسوالیو کې ډېری خلک د خپلو ستونزو د له منځه وړو په خاطر د دولت مخالفینو ته مراجعه کوي، چې دا په خپله د اداري فساد ستره زېږنده او پر شته نظام د ولس کم باورۍ سبب کېږي.

اوسمهال د رسنیو د رپوټونو له مخې، په سلګونو دوسیې د اداري فساد په هکله په عدلي ارګانونو کې پرتې دي؛ خو تر اوسه دا ارګانونه په دې نه دي توانیدلي چې دا دوسیې حل او فصل کړي، دا ځکه چې له یوې خوا په خپله عدلي ارګانونو کې د فساد د شته‌والي په هکله ادعا کیږي او له بلې خوا دولتي لوړپوړي چارواکي او نفوذ لرونکي کسان نه پرېږدي چې په فساد کې ککړ و کسانو ته د قانون له مخې جزا ورکړل شي.

په ډېرو ادارو کې د بنډونو او ډلګیو جوړېدل د دې سبب شوي، چې ولس د قانون او نظام په هکله ناسم برداشت کړی او ناسم ذهنیت یې خپل کړی دی، چې دا په لوی لاس د نظام او قانون بدنامېدل د خلکو او حکومت تر منځ واټن رامنځته کېدل دي.

په تېرو لسو کلونو کې په نظام کې شته مشرانو هڅه کوله، چې په دولت کې ټیټ رتبه لرونکي کسان په فساد کې ککړ وبولي. دوی دا دلیل درلود، چې د دې کسانو شته معاشونه لږ دي، نو له دې امله چې د کورنۍ اقتصادي ستونزې یې هوارې کړي، دوی فساد ته مخه کوي.

بدبختانه په اوس وخت کې دا ډېر بد کلتور خپل شوی، چې پر اداري فساد اخته کسان د دې پر ځای چې د خلکو او ټولنې پر وړاندې له افغاني کلتور سره سم، د شرم احساس وکړي؛ برعکس دوی خلاصې تنې ګرځي او له ناروا لارو د شتمنیو په راټولولو سره د غرور او لوړتیا احساس کوي.

په نظام کې شته واکداران د فساد د له منځه وړلو لپاره ځینې اداري را منځته کوي، خو تر هغه چې د اداري فساد د له منځه وړلو لپاره کلکه سیاسي اراده رامنځته نه شي او د موجوده نظام واکمنان دا کلکه اراده پیدا نه کړي، چې خپله به هم په اداري فساد کې نه ښکېل کېږي او نه به بل څوک دغه ناروا او غیر قانوني عمل ته پرېږدي، چې اداري فساد ته مخه کړي؛ تر هغه د فساد پر ضد شعارونه، کنفرانسونه او غونډې هسې چټیات او بابولالې دي. موږ ګورو چې په نظام کې تقریباً پنځه نوي سلنه کسان پر فساد اخته دي.

دا پنځه نوي سلنه کسان هېڅکله د اداري فساد د له منځه وړلو هوډ او اراده نه لري. همدا خبره ده، چې په افغانستان کې فساد هغه مهال له منځه تللی شي، چې د فاسدو، لوټمارو او قانون ماتوونکو کسانو څخه په بشپړه توګه پاکه اداره رامنځته شي. باید ووایو چې د فساد پر وړاندې په مبارزه کې نه یوازې د فاسدو کړیو سیاسي او اداري حاکمیت ستر خنډ دی، بلکې د نورو استخباراتي ډلو فعالیتونه هم د دې سبب شوي دي، چې په هېواد کې د فاسدو ډلو سیاسي حاکمیت نور هم اوږد او لا قوي شي.

د اداري فساد له منځه وړل طرحو ته نه؛ بلکې سیاسي ارادې ته اړتیا لري، سیاسي اراده هله رامنځته کېدای شي، چې په ربښتینې ډول په ولس او وطن زړه بد شي، نه دا چې تش تمثیل او ولس تېر ایستل وي.

## اروپايي ټولنه او امریکا:

# ډېر ژر به پر روسیې نور سخت بندیزونه هم ولګول شي

د امریکا متحده ایالتونه او اروپايي ټولنه وايي چې ډېر ژر به د روسیې د اپوزیسیون د مشر الکسي ناوالنۍ د مسمومېدو او زنداني کېدو په خاطر پر روسیې سخت بندیزونه ولګول شي.

اروپايي ډیپلوماتیکو سرچینو ویلي چې د اروپايي ټولنې غړو هېوادونو د روسیې عدلي او د قانون د تنفیذ پر څلورو جګپوړو چارواکو چې د کرېملین د منتقد الکسي ناوالنۍ د زنداني کېدو په دوسیه کې یې لاس درلود، بندیزونه تایید کړي دي.

په ورته مهال د امریکا د ولسمشر جو بایډن اداري دوو سرچینو رویټرز او سي ان ان ته ویلي چې متحده ایالتونه په پام کې لري چې د ناوالني د مسمومېدو د پېښې په خاطر د روسیې پر وړاندې اقدام وکړي. د یادونې ده چې ناوالني د تېر کال په اګسټ میاشت کې په نواچیک زهرجنو موادو چې په پخواني شوروي اتحاد کې تولیدېدل او د پوځي هدفونو لپاره ترې کار اخیستل کېږي، مسموم شوی و چې وروسته د درملنې لپاره جرمني ته ولاړ.

په دې اړه چې متحده ایالتونه به د روسیې پر وړاندې څه اقدام کوي او هغه به کله اعلانوي؟ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې یوازې دومره ویلي چې متحده ایالتونه له مخکې بندیزونه نه افشا کوي.

په ورته وخت کې دوو اروپايي سرچینو د خپل هویت د پټ ساتلو په شرط فرانس پرېس خبري اژانس ته ویلي چې پر هغو روسي چارواکو چې اروپايي ټولنې په دغو نویو بندیزونو کې په نښه کړي، نومونه به یې وروسته له هغې چې هغه بندیزونه چې د دې ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو تېرې اونۍ پرې موافقه کړې وه، تایید شي، د دې ټولنې په رسمي ژورنال کې خپاره شي.

دغو سرچینو هغه راپورونه چې له مخکې یې د دغو څلورو لوړپوړو روسي چارواکو نومونه په ډاګه کړي، تایید کړي دي. په دوی کې د روسیې د زندانونو د فدرالي ادارې مشر الکساندر کالاشنیکوف، د روسیې د تحقیقاتو د کمېټې مشر الکساندر باستریکین، لوی څارنوال ایګور کراسنوف او د ملي ګارډ رییس ویکتور زولوتوف شامل دي. اروپايي ټولنې له دې مخکې هم تېرکال چې کله الکسي ناوالنۍ مسموم شو، پر روسیې بندیزونه ولګول، خو هغه مهال د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ دغه پېښه له پامه وغورځوله او روسیې ته یې د سزا ورکولو کوم اقدام ونه کړ.

د بایډن اداري نه دي ویلي چې په مشخص ډول د ناوالنۍ د مسمومېدو د مسئلې په تړاو به د روسیې پر وړاندې څه ډول اقدامات کوي.

# ولې افغانستان کې بېرته تاوتریخوالی زیات شو؟

لیکنه: هاشم وحدتیار- ژباړه: اسد افغان

د امریکا ولسمشر جوبایډن د افغانستان په اړه د خپل حکومت دریځ په ډاګه کړ. نوموړي تېره اونۍ د میونیخ په امنیتي کنفرانس کې وویل: زما اداره په کلکه د روان ډیپلوماتیک بهیر ملاتړ کوي، خو له شلو کلونو راهیسې روانه جګړه پای ته ورسیږي. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د هدفي وژنو، چسپکي ماینونو او مخامخ بریدونو کچه لوړه شوې، افغانان اندېښمن دي چې د متحده ایالاتو نوی حکومت به د سولې له خبرو په شا شي، خپل ځواکونو به وباسي او که به کومه دریمه تګ لاره غوره کړي.
افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي دفتر (یوناما) په خپل خپاره کړي راپور کې ویلي، چې د ۲۰۲۰ کال له جنوري تر سپټمبر میاشتې ۵۹۳۹ ملکیانو ته مرګژوبله اوښتې او له سپټمبر را وروسته موده کې په هدفي بریدونو کې ۱۱ پېژندل شوي ژورنالیستان او د بشري حقونو فعالین وژل شوي دي، سره له دې چې امریکا او طالبانو په خپلو کې موافقه وکړه او بین الافغاني خبرې هم روانې دي، دا مهمه ده چې پوه شو ولې تاوتریخوالی زیات شوی؟
کله چې د ۲۰۲۰ کال د فبروري په ۲۹مه، د امریکا او طالبانو تر منځ تړون لاسلیک شو او ورپسې په مې میاشت کې طالبانو درې ورځنۍ اوربند اعلان کړ، د افغانانو هیلې زیاتې شوې چې په تدریجي توګه به تاوتریخوالی کم شي. همدارنګه په ژمي کې چې طالبان تل خپل بریدونه د سړې هوا له امله کموي او له غرونو ټولېږي چې ورڅخه بریدونه تر سره کوي، خو سږني ژمي کې د چسپکي ماینونو او هدفي وژنو په بهیر کې هیڅ کموالی نه لیدل کیږي، چې د دې حملو مسوول د حکومتي او امریکایي چارواکو لخوا طالبان بلل شوي؛ خو طالبانو بیا دا ادعاوې رد کړې او هغه د حکومتي چارواکو کار بولي.

**د تاوتریخوالي د بیا ډېرښت ځینې اصلي عوامل:**

**لومړی:** طالبان په یو وخت کې هم د جګړې او هم د خبرو ستراتیژي پر مخ وړي. دغه ډله په دې باور ده چې د بریدونو په دوام سره کولای شي د خبرو اترو پر میز برلاسي وي.

**دویم:** تاوتریخوالی ځکه زیات شوی چې هر څوک د سولې د خبرو په اړه بېل تعریف لري. د نړیوالې ټولنې او افغانانو موخه د سولې له خبرو دا ده، چې د شخړې لپاره سیاسي حللاره پیدا شي او د افغانستان د راتلونکي حکومت لپاره لار- نقشه پکې جوړه شي.
بلخوا طالبان بیا د خبرو په ترڅ کې د سولې غوښتونکي نه ښکاري؛ بلکې غواړي واشنګټن له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو په ایستلو قانع کړي، څو د طالبانو د بریدونو د دوام پر ځای عسکر د مذاکراتو په پایله کې وباسي.
سره له دې چې افغان حکومت، دیني عالمان، مدني ټولنه او سیمه ییز مشران ټول له طالبانو د اوربند او اورکم غوښتونکي دي؛ خو طالبان د بېلابېلو لاملونو پر اساس چمتو نه دي چې اوربند اعلان کړي، بلکې دوی غواړي چې له اوربند څخه د بین الافغاني مذاکراتو په ترڅ کې کار واخلي او په بدل کې یې خپل پاتې بندیان د افغان حکومت له زندانونو را خوشي او د خپلو مشرانو نومونه د ملګرو ملتونو له تور لېست وباسي.
افغان حکومت شک لري چې طالبان د رښتیني سولې پر ځای د واک د تر لاسه کولو په هڅه کې دي. افغان سیاستوال او د مدني ټولنې غړي که څه هم حکومت د فساد او ناامنۍ په مخنیوي کې په کمزورۍ تورنوي؛ خو په پرله‌پسې توګه له طالبانو هم د اوربند او اورکم غوښتنه کوي.
مدني فعالان او نور افغانان د طالبانو د تاوتریخوالي او حکومت د ناکامیو تر منځ ګیر دي. فعالان، پېژندل شوي ژورنالیستان او مشهور دیني عالمان یو په بل پسې وژل کیږي او دا په دې مانا چې هر څوک د اوربند او اورکم لپاره رغ پورته کوي، هغه په نښه کیږي.
د امریکا نوي حکومت اعلان وکړ چې د امریکا- طالبانو د تړون ارزونه کوي. د نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو په راپورونو کې ویل شوي، چې طالبان له امریکا سره خپلې معاهدې ته ژمن نه دي؛ ځکه دغه ډله اوس هم له القاعدې سره اړیکې لري او تاوتریخوالی یې نه دی کم کړی. اوس ممکن واشنګټن په دغه تړون کې ځینې ټکي ور اضافه کړي او له دې لارې ډاډ تر لاسه کړي چې طالبانو له القاعدې سره اړیکې پرې کړې او بریدونه یې کم کړي. تېره اونۍ د متحده ایالاتو دفاع وزیر د سمدستي اورکم غوښتنه وکړه او دا په دې مانا که طالبان تاوتریخوالی کم نه کړي، د امریکا- طالبانو تړون له ماتې سره مخ دی.
اوس د امریکا د حکومت لپاره ببړنۍ مسئله په ثوارلس میاشتو کې له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو د ایستلو ده. د امریکا- طالبانو د سولې تړون له مخې د روان کال د اپریل په ۳۰مه دغه موده پوره کیږي. که امریکایي پوځیان ووځي یا پاتې شي، په راتلونکي پسرلي کې به تاوتریخوالی زیات شي. که د متحده ایالاتو عسکر له افغانستان څخه ولاړ شي، طالبان به حالت د ځان په ګټه وبولي او د افغان حکومت د ړنګولو او خپل رژیم د بیا قایمولو لپاره به جګړې ته زور ورکړي.
د امریکا- طالبانو د تړون تر ارزونې وروسته به واشنګټن د ناټو له غړو هېوادونو سره په شریکه، په افغانستان کې د خپلو سرتیرو د برخلیک په اړه پرېکړه کوي. د ناټو ماموریت دوام او افغانستان کې د امریکایي سرتېرو پاتې کېدل به هغه ثرګندونې غلطې وښيي، چې پکې ویل کېدل چې امریکایان د وتلو لپاره په بېړه کې دي او افغانستان یو ځل بیا طالبانو ته پرېږدي.
دا ډول پرېکړه به طالبانو ته هم واضح پیغام ولري چې باید د سولې، ټول شموله حکومت او دایمي اوربند لپاره چمتو شي. افغانستان کې د ناټو پاتې کېدل به پر سیمه هم اغېز ولري او ښایي دا ډول پرېکړه د ځینو هېوادونو لپاره په زړه پورې نه وي؛ ځکه چې نیابتي جګړه به یې پر نیابتي سوله بدله کړي.
د افغانستان ګاونډیان د سولې لپاره خپل تعریفونه لري. د ایران لپاره سوله په دې مانا چې د متحده ایالاتو ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او دوی په خپل ختیځ سرحد کې د امریکایي پوځي قرارګاوو له ګواښ خلاص شي. د روسیې لپاره بیا سوله په دې مانا ده چې امریکا ته بې ساري ځاني او مالي زیانونه واوړي. نیویارک ټایمز په خپل راپور کې په ډاګه کړې وه، چې روسانو د امریکایي عسکرو د وژلو پر سر افغان طالبانو ته انعامونه ورکړي.

**پاکستان**

پاکستان بیا داسې سوله غواړي چې پکې امریکایان له افغانستان څخه لاړ شي او د دغه هېواد د چارو سمبالښت پاکستان ته وسپاري او همدارنګه دوی غواړي چې د ډالرو په بدل کې امریکا په پاکستان کې له ترهګرۍ سره د مبارزې پوځي ډلې وساتي، څو له افغانستان څخه د تروریستي تهدیدونو پر مهال سمدستي اقدام وکړای شي.
تاوتریخوالی، هدفي وژنې او چسپکي ماینونه یوازې د حالت د لا خرابوالي سبب کیږي، چې نه د افغانستان او نه هم د سیمې په ګټه دي او د سولې روانه پروسه به له خنډ سره مخ کړي.
د دې لپاره چې په افغانستان او سیمه کې امن او ثبات قایم شي، سیمه ییز هېوادونه باید صادقانه کردار ادا کړي چې تاوتریخوالی کم، اوربند اعلان او په افغانستان، سیمه او نړۍ کې د تلپاتې سولې لپاره لاره هواره شي. له دې پرته، جګړې او بریدونه به د سیمې هېوادونو ته پراخ شي. له بلې خوا د روان تاوتریخوالي په شتون کې د ناټو ځواکونو بېړنۍ او غیرمسولانه وتل به یو ځل بیا افغانستان د نړیوالې ترهګرۍ په مرکز بدل کړي.

# ننګرهار کې د دریو خبریالانو وژل کېدل؛

## د خبریالانو د خوندیتوب کمېټه: حکومت او امریکا دې یوازې د اعلامیو په خپرولو ځان نه خلاصوي




د ناپېژانده وسله والو د هدفي بریدونو په دوام، تازه په ننګرهار کې د یوه خصوصي ټلوېزیون درې کارکوونکې وژل شوې دي. له ننګرهار راپورونه وایي، چې دغه درې کارکوونکې په دوو بېلو سیمو کې په نښه شوې دي. د انعکاس په نامه د یوه ټلویزیون مسوولین هم تاییدوي چې درې کاروونکې یې لومړی په ډزو ټپې شوې، خو وروسته یې په روغتون کې ساه ورکړې ده. د ننګرهار امنیه قوماندان بیا وایي چې په دې دوو پېښو کې یې د یوې پېښې مسوول نیولی او پلټنې ترې روانې دي.
شاوخوا درې میاشتې وړاندې په ننګرهار کې د انعکاس په نامه د یوه خصوصي ټلویزیون د خپرونو پر چلوونکې ملالې میوند وسله وال برید وشو، چې له امله یې نوموړې له خپل موټر چلوونکي سره یو ځای ووژل شوه. پرون تر غرمې وروسته بیا هم همدا پېښه تکرار شوې ده.
سره له دې چې حکومت ویلي وو، د ملالې میوند قاتلین یې نیولي، خو په ننګرهار کې د هدفي بریدونو دوام سختې اندېښنې پارولې دي.
په ننګرهار کې د انعکاس ټلویزیون رییس زلمی لطیفي وایي چې پرون مازیګر مهال یې د دوبلې د برخې پر دریو کارکوونکو په دوو بېلو سیمو کې بریدونه شوي دي. د ده په وینا، لومړۍ پېښه پرون شاوخوا څلور بجې د جلال اباد ښار د لومړۍ حوزې په مربوطاتو کې شوې ده، چې په هغه کې یې دوه ښځینه کارکوونکې سعدیه او شهناز لومړی سختې ټپي شوې وې، خو وروسته یې د ژورو ټپونو له امله په روغتون کې ساه ورکړې ده. دویم ورته برید د جلال اباد ښار د څلورمې حوزې په مربوطاتو کې شوی، چې له امله یې د مرسل په نامه یوه کارکوونکې چې د انعکاس ټلویزیون د دوبلې په برخه کې یې کار کاوه، وژل شوې ده.
په ورته وخت کې په ننګرهار ولایت کې ځایي روغتیایي کارکوونکي هم وایي چې له یادو پېښو درې جسدونه ور وړل شوي دي. دغو پېښو په ټولنیزو رسنیو کې هم سخت غبرګونونه پارولي او کارونکي حکومت د خبریالانو او مدني فعالانو د امنیت په تامین کې په بې پروایۍ تورنوي.
د دې تر څنګ تر اوسه هېڅ وسله والې ډلې د دغه برید مسوولیت نه دی منلی. وسله والو طالبانو بیا وار د مخه په دې پېښه کې لاس لرل رد کړي دي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته ویلي چې په دې پېښه کې لاس نه لري. د ننګرهار امنیه قوماندان جمعه ګل همت وایي چې د مرسل د قتل په تور یې یو کس نیولی او دمګړۍ پلټنې ترې روانې دي.
د خبریالانو د خوندیتوب ډلو او د بشري حقونو مدافعینو هم پر دغه پېښه غبرګون ښودلی دی. د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې په یوه خپره کړې اعلامیه کې پر امریکا او افغان حکومت نیوکه کړې، چې د دغه ډول بې رحمانه هدفي بریدونو پر وړاندې چوپ دي او یوازې اعلامیې خپروي. دوی د امریکا له سفارت او همدا راز له افغان حکومت غوښتي، چې د اعلامیو خپرول بس کړي، پر ځای یې دې د خبریالانو د خوندیتوب لپاره ګامونه اوچت کړي. د خبریالانو د خوندیتوب کمېټې دغه راز له ملګرو ملتونو غوښتي چې پر دې مسایلو دې پټه خوله نه پاتې کیږي او ژر تر ژره دې د بیان ازادۍ او خبریالانو د ساتنې لپاره اړین اقدامات ترسره کړي.
دغه بوږنوونکې پېښې داسې مهال رامنځ ته کیږي، چې په وروستیو کې په ټول هېواد کې هدفي بریدونه ډېر شوي او هېڅ ډله یې مسوولیت نه اخلي. په کابل کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر یا یوناما یوه اونۍ مخکې په یوه خپاره کړي راپور کې ویلي وو، چې د دوحې هوکړې تر لاسلیک وروسته په افغانستان کې د بشري حقونو ۱۱ مدافعین او خبریالان وژل شوي دي. د دې ټولو تر څنګ بیا افغان حکومت وایي چې دوی د هدفي بریدونو ګڼ مسوولین نیولي او د خپلو خلکو امنیت ورته لومړیتوب دی.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پیښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او اډېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شیبې




موږ له پوځي عملیاتو پرته د دوو کلونو لپاره په ډېرې اسانۍ همدې بغاوت ته ستونزې راپورته کړې. اوسني بغاوت ډېر وخت ونیوه، ځکه چې هېڅا یې هم د ربښتیني حل په اړه سوچ نه دی کړی. که ما ته یې د کشمیر غونډې د بغاوت په شا تمبولو دنده راکړې وای، په شا تمبول یې سخت کار نه دی، خو د دوی زړونه به مو څنګه کول؟ موږ د همدې کار لپاره کافي سرچینې، اراده او زور نه لرو.

مشـرف ښایي غوښتي وي، چې جدي اقدامات وکړي، خو یوازې یو څو کسان یې استخدام کړي دي او بس. بلوڅ د هغو پروژو په کیسه کې هم نه دي، چې د کار زمینه ورته برابروي. د کارګرو د پیدا کولو لپاره باید نږدې ښار کراچۍ ته لاړ شي. بلوچستان خپل متخصصین نه لري، بلکې له نورو ځایونو ورته راځي.

د بلوڅو ځانګړنه دا ده، چې ډېر احترام غواړي. د دوی پر وفادارۍ شک مه کوه، ځکه چې آن عطاءالله منګل چې یو وخت زموږ مخالف و، څو کاله مخکې ویلي و، چې له موږ سره ښه سلوک نه دی شوی، نو پاکستان زموږ تر ټولو بد انتخاب دی.

موږ ځینې اخیستي دي، ځینې مو په بل شي راضي کړي دي او ځینو ته مو رشوت ورکړی دی: د بلوچستان اسمبلۍ هر وخت له ۳۰ مختلفو ډلو څخه ٦۰ کسان لري. نو موږ به مجبور یوو ټول یې وزیران کړو. یو کس د اپوزیسیون رهبر کېږي او بل هغه یې وياند. پنځوس د نورو کوچنیو ځایونو رئیسان.

پېچلتیا خو پربېږده، له وسله والو ځواکونو سره زموږ د مبارزې وړتیا او په ځینو ځایونو کې نغدې پیسې ورکول هغه څه دي، چې باید په پام کې ونیول شي. په دې حالت کې زموږ مجبوریت دا و چې د سي پیک د ترلاسه کولو لپاره مو باید له وسله والو سره مبارزه تېزه کړې وای او په ځینو ځایونو کې مو ژر نغدې پیسې ورکړې وای. دا ځکه چې له افغانستان سره د اړیکو د خرابتیا پر مهال ځینو له همدې پروژې د ځان په ګټه کار اخیستی شوای. دربیمه دا چې په همدې ځای کې تر بلوڅو، باندني عوامل لوی ګواښ دی. زه دا منم چې په ډېرې اسانۍ دلته بهرنیان لاسوهنې کولای شي او د بغاوت کنټرول په لاس کې اخیستی شي. د خلکو د خپګان د سرچینې معلومول پېچلی کار دی او ډېر وخت ته اړتیا لري. دا کار د مشـرف تر سندرو او ډانس ډېرو هڅو ته اړتیا لري، که څه هم د مشـرف چې څه په وس کې و، ویې کړل. ده وویل چې پوهېږم څه وکړم، خو حقیقت دا دی چې هېڅوک هم څه نه کوي.

دولت: زه خوشاله شوم، چې بلوچستان دې له کشمیر سره پرتله کړ. زه د بلوچستان په اړه سم معلومات نه لرم، خو ستونزې او ناراضي شته، ځکه چې په اکثریت غونډو کې بلوڅ ځوانان ازادانه په دې اړه غږېږي، چې په بلوچستان کې څه پېښېږي. دوی د ټنبتول شویو او ورکو ځوانانو او ځینو نورو شیانو په اړه خبرې کوي. هلته داسې ستونزه شته، چې پاکستان یې باید حل کړي.

خو پوښتنه - چې جنرال صېب هم نن نه دی پرې غږېدلی، نن یې طبیعت سم دی - زموږ د لاسوهنې او مداخلې په اړه ده.

دغه بلوڅ رهبران ښه مشهور دي. په پاکستان کې یې د RAW کارمندان او د هند ډیپلوماتان پېژني او دا ستونزمن کار هم نه دی. هر وخت چې له نورو واورم چې موږ همدې اور ته پکې وهو، یا پیسې ورکوو او یا دلته ترهګر روزو، هېښ شم. یو تور دا و چې کلبوشن یادېو بلوڅ ترهګر روزل. ما هېڅکله هم داسې څه نه دي اورېدلي. ما RAW رهبري کړې ده او داسې څه زما په وخت کې نه دي شوي. جنرال صېب ومنله، چې ISI په بلوچستان کې پیسې ورکړې دي، خو په کشمیر کې یې نه دي ورکړې. دا خاص هماغه څه دي، چې ما په خپل کتاب کې لیکلي و: پیسې هغه وسله ده، چې ټولو استخباراتي ایجنسیو په هر ځای کې کارولې ده.

سېنها: پاکستان تور لګوي، چې په افغانستان کې هندي قونسلګرۍ همدا کارونه کوي.

دوراني: که هندي قونسلګرۍ کارول شوې وای، موږ به خوشاله وو. هلته یوه سفارتخانه او څلور قونسلګرۍ دي، خو موږ ته یې شمېر مهم نه دی. په پاکستان کې چې ځینې خلک سم پوه نه دي او یا احمقان دي، فکر کوي چې ۹ او یا ۱۸ قونسلګرۍ دي؛ تر ټولو لوی شمېر چې ما اورېدلی ۲۳ دی. که هندیانو له همدې څلورو قونسلګریو خپل جاسوسان اداره کولی، موږ به خوشاله وو، ځکه چې موږ یې څرک معلومولی شوای. په هر حال، جاسوسان له همدې ځایه نه رالېږل کېږي.

دوه هندي ساختماني شرکتونه د کلبوشن یادېو په څېر دوه کسان استخداموليی شي. په دې توګه د جاسوسانو څرک معلومول سختېږي. معمولاً، موږ د هند اغېز لوی ښیو، لکه څنګه چې یې د قونسلګریو شمېر ډېر ښیو.

**دوام لري...**

# د یوې ځوانې نجلۍ خاطرې

اکسوس کتابپلورنځی




د یوې ځوانې نجلۍ خاطرې کتاب لیکواله ان فرانک ده، چې له خپلې کورنۍ سره د هټلر او نازیانو له ظلمه په تېښته وه. له ډېر کړاو او ظلم ګاللو وروسته د ختیځ المان په برګن بالسن کې په ۱۵ کلنۍ کې مړه شوه.

د هغې خاطرې د هټلر او نازیانو د ظلمونو په اړه لیکل شوې، چې په تېرو سلو کلونو کې د نړۍ په ډېرو خرڅ شویو او لوستل شویو کتابونو کې شمېرل کېږي. دغه خاطرې صفیې وردګ پښتو کړې او تازه د چاپ په ګاڼه سمبال شوې دي.

ان فرانک چې په ۱۹۴۵ کال کې مړه شوې وه، له مرګ دوه کاله وروسته یې پلار اوتو فرانک د هغې خاطرې لومړی د «پټې پسخانې» په نوم او بیا د «یوې ځوانې نجلۍ د ډایرې» په نوم چاپ او د یوې ماشومې نجلۍ د شهکار یادګار په توګه یې نړۍ ته د هغې کتاب وړاندې کړ. دا کتاب څه باندې ۳۵ میلیونه ځله چاپ شوی او د نړۍ په ٦۷ ژبو هم ژباړل شوی دی.

یهودۍ تېره ان لیزه ماري فرانک په ۱۹۲۹ کال کې د المان په فرانکفورت کې وزېږېده او وروسته له هغې چې د المان نازیانو په یهودیانو ظلمونه کول، وړوکې ان له خپلې کورنۍ سره یوځای له المان څخه د هالنډ امستردام ته چې نازیان په کې واکمن وو؛ مهاجرت وکړ.

د ان کورنۍ په هالنډ کې د دوو کلونو لپاره په یوه پټ ځای کې اوسېده، چې له دوو کلونو وروسته د یوه نازي عکسر (ګشتاپو) لخوا ونیول شول. په پټنځای کې ان فرانک، خور یې مارګوت فرانک، پلار یې اتو فرانک او مور یې ایدیت فرانک له یوې بلې درېې کسیزې کورنۍ او د منځني عمر له یوه ډاکتر سره اوسېدل. له دې اتو کسانو څخه ټول د نازیانو لخوا ووژل شول، خو یوازې د ان پلار اوتو فرانک ژوندی پاتې شو.

د یوې ځوانې نجلۍ خاطرې په اصل کې د ان فرانک د زړه خبرې دي، چې د هالنډ په امستردام کې یې له ۱۹۴۲ تر ۱۹۴۴مو کلونو کې ولیکلې، چې ان ورته Annexe یا پسخانه هم وایي. دا خاطرې هره ورځ د لیک په ډول د ان لخوا هغه خیالي کرکټر ته لیکل شوې، چې نوموړې یې کېټي بولي.

هغه څه چې د ان یاد له مرګ وروسته د خلکو په منځ کې ژوندی ساتي، دا دي چې وړوکې ان د نازیانو ظلمونه لیدلي، لیکلي یې دي او په تاریخ کې یې ثبت کړي دي. د خاطرو دغه ټولګه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نازیانو د ظلمونو او نسل وژنې یو سند ګڼل کېږي، که څه هم د ان دا کتاب شخصي خاطرې دي.

د یادښتونو په یوه برخه کې ان د ژوند له سختۍ خبرې کوي، د خوړو کموالی، د جامو زړښت، له نیولو او وژلو څخه ډار، وېره او اندېښنه، ناروغۍ، درد او د وسلو د اوازونو درز او د هر کړاو او مصیبت یې یاد کړی دی.

ان فرانک د ۱۹۹۴ کال د اپریل په ۱۱مه لیکي: «په تکراري ډول دا حقیقت اورو چې موږ یهودیان بې له کومې خبرې له زرګونو سختیو سره په بند او زولنو کې یو، موږ باید احساسات لرې کړو، باید زړور او قوي واوسو، له سختیو سره بې له شکایتونو پر مخ لاړ شو، هر څه مو چې په وس کې وي، باید تر سره یې کړو او په خدای ایمان ولرو. یوه ورځ به دا جګړه پای ته ورسیږي، هغه ورځ به راورسیږي چې موږ به یو ځل بیا انسانان شو؛ نه یوازې یهودان.»

ان فرانک په بله برخه کې داسې لیکي: «زه په زړورتیا سره ګام اخلم، پوهیږم چې ښځه یم، له زړورتیا او قوت سره که خدای ژوندۍ وساتلم، نه پرېږدم چې غږ مې چوپ شي، له دې تنګ ځایه به وځم او د انسانیت لپاره به کار کوم، پوهیږم مېړانه او له ځانه تېرېدل د بریا لپاره اړین او دوه لومړني عنصره دي.»

د ځوانې نجلۍ خاطرې درته ډېرې کیسې کوي، هغه کیسې چې ډېری به یې حتمن ستاسې په ژوند کې هم پېښې شوې وي. که غواړئ چې دا کیسې واورئ، د کتاب لوستلو ته متې بډ وهئ.

مینه‌وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کیمیای غیرعضوی (III) | طاهره نبی | ٤۰۰؋ |
| ۲ | توضیح مفاهیم قانون مدنی | یادګار راجی سمنګانی | ۲۵۰؋ |
| ۳ | کیمیای عمومی | محمدعارف ټنیوال | ۳۰۰؋ |
| ٤ | مبادي حقوق | نصراللهستانکزی | ۲۲۰؋ |
| ۵ | مدیریت منابع بشری | عبدالطیب الرحمان، حشمت الله ناصری | ۲۵۰؋ |
| ٦ | فزیک عمومي جلد اول و دوم | عبدالظاهر ستانیزی، فریبا احدیار | ۵۰۰؋ |
| ۷ | مبادی تیوریهای عمومی احصائیه و تطبیق آنها در اقتصاد | مراد علی اصیل | ۲۵۰؋ |
| ۸ | اداره عامه | سخی محمدی | ۲۰۰؋ |
| ۹ | د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه | محمد ابراهیم عطایي | ۲۷۰؋ |
| ۱۰ | افغانستان در مسیر تاریخ | میرغلام محمد غبار | ٦۰۰؋ |
| ۱۱ | THE F*CK IT DIET | CAROINE DOONER | ۱۸۰؋ |
| ۱۲ | THe $100 STARTUP | Chris Gullebeau | ۲۰۰؋ |
| ۱۳ | blink | Malcolm Gladwell | ۱۵۰؋ |
| ۱٤ | Sometimes You Win SometimesYou Lost Learn | John C. Maxwell | ۲۰۰؋ |
| ۱۵ | IKIGAI | Hector Garcia&Francesc Miralles | ۱۵۰؋ |
| ۱٦ | (No Excuses!( The Power of Self- Discipline | Brian Tracy | ۲۰۰؋ |
| ۱۷ | Good Vibes, Good Life | Vex King | ۲۷۰؋ |
| ۱۸ | THE CODE OF THE EXTRAORDINARY MIND | VISHEN LAKHIANI | ۳۵۰؋ |
| ۱۹ | Atomic Habits | James Clear | ۲۰۰؋ |
| ۲۰ | NEVER SPLIT THE DIFFERENCE | CHRIS VOSS | ۲۰۰؋ |
| ۲۱ | A Promised Land | Barack Obama | ۵۵۰؋ |
| ۲۲ | Let Her Fly | ZIAUUDDIN YOUSAFZAI | ۱۵۰؋ |
| ۲۳ | YES TO LIFE | VIKTOR E. FRANKL | ۱۳۰؋ |
| ۲٤ | EMPTY BOTTLES FULL of STORIES | ROBERT M. DRAKE | ۱۸۰؋ |
| ۲۵ | I'm Ok  Your Ok | Thomas A. Harris | ۲۰۰؋ |
| ۲٦ | UNFOLLOW Living Life on Your Own Terms | Dr Linda Papadopoulos | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | Be the Hands and Feet | Nick Vujicic | ۲۰۰؋ |
| ۲۸ | The Ship of Brides | Jojo Moyes | ۲۳۰؋ |
| ۲۹ | dare to lead | Brene Brown | ۲۵۰؋ |
| ۳۰ | دیوې ځوانې نجلۍ خاطرې (دویمه نړیواله جګړه) | ان فرنک/صفیه وردګ | ۲۷۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ　　اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٤ |
| € | ۹۲,۹ |
| Rp. | ٤٨٤ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦,۲ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# لړ خطر ومنئ

ژباړه: امان الله حنیفي

هېڅ نه شی کولای چې د ورتیاوو لوړولو په اړه کتاب ولیکی او په هغه کې د خطر منلو له موضوع استفاده ونه کړی. تي ایس الیوت وایي: «یوازې هغه کسان چې کولای شي خطر ومني او تر ډېرو لرې ځایونو لاړ شي، پوهېږي چې د انسان تر کومه ځایه مخکې تګ په وس پوره دی.»
تاسې تر کومه ځایه مخکې تلل غواړی؟ ایا چمتو یاست چې خپل محدودیتونه مو وسنجوی؟
ټول انسانان ذاتاً داسې نه دي چې خطر منل پر ځان قبول کړي، خو باید ووایم چې زه ډېر په اسانۍ سره کولای شم پر ځان خطر ومنم او تر هغه ځایه مخکې لاړ شم چې په وس مې پوره ده او غواړم تر هغه هم نویو ځایونو ته ورسېږم. اوس چې تقریباً اویا کلن یم په ژوند کې مې د خطر منلو تر ټولو په لوړه سطحه کې قرار لرم. ډېری کسان راته وایي چې لېونی شوی یې! کله کله خو زه هم دا خبره ورسره ومنم.
ممکن همدا اوس له یوې خطر منونکې ننګونې سره مخ یاست او یا هم په هغه پروژه کې د کار کولو فرصت درته برابر وي، چې زیات خطر لري او یا هم ممکن ستاسې د زړه غوښتنه د یوه لوی کار تر سره کول وي؛ خو تاسې داسې فکر وکړئ چې ستاسې پر ټاکل شوي مسیر مو یوه لویه مانع ستاسې پر وړاندې ولاړه ده. که همداسې وي، پوهېږم چې تاسې به څنګه احساس لرې، ځکه دا احساس او حالت ما خپله تجربه کړی دی. ممکن تاسې هغه کس یاست چې ټول عمر له خطر منلو تښتېدلي یاست او اوس پوه شوي یاست چې دې کار تاسې څومره پس پاتې کړي یی. په هر حال، مهمه نه ده چې تاسې په کوم وضعیت کې قرار لری، له خطرونو سره د مخ کېدو پر مهال سم تصمیم ونیسئ.
ماکس دي پري وایي: «د یو رهبر لومړی مسوولیت د واقعیت په ډاګه کول دي.» دا حقیقت د هغو کسانو په حق کې هم صدق کوي، چې غواړي لوی خطر ومني. ځکه چې لوی خطر منل بیا هغه وخت نه شي کولای او نه هم باید داسې وکړي چې ځان د پوچو او کوچنیو افکار ښکار او یا ور پورې وتړي؛ ځکه دا افکار د خطر منلو زغم نه لري. تاسې باید دا درک کړئ چې تاسې دقیقاً له څه سره مخ یاستی. ښه ده چې د هغه د بدو پایلو په اړه هم فکر وکړئ او اصلي واقعیت ووینئ.
ممکن زه د ډېرو کسانو په پرتله زیات د لوی خطر منلو ته چمتو وم، ځکه مې عمر او تجربې ته په کتو د ژوند اخرو ته رسېدلی یم. سټیو جابز وایي: «دا نصحیت په یاد راوړل چې یوه ورځ به له دنیا ځو، د ټولو هغو ځیزونو په اړه له فکر او اندېښنې د خلاصون لاره ده، چې پوهېږو هغه ټول له لاسه ورکوو. تاسې مخکې له مخکې خلع سلاح شوي یاست. پس هېڅ داسې توجه نشته چې تاسې د دې لنډ او محدود ژوند په دوران کې د خپل زړه غږ وا نه وری او د هغه په خوښه د یوڅه تر سره نه کړی.»
هره لحظه دا امکان شته چې موږ ته مرګ را ورسېږي، هېڅوک په دې دنیا کې تر اخره نه پاتې کېږي. همدا دلیل دی چې د خپل ځان او ټولو هغو کسانو په اړه چې زه ورسره پېژنم، د احسان او نېکۍ پوروړی یم. څو هره لحظه په سم ډول ژوند کولو او د هغوی د باور وړ کس جوړ شم. دا له واقعیت سره مخ کېدل او په هر وضعیت کې د خطر منلو مانا ورکوي.
کله چې یو خطر ارزوی، واقعیتونه څنګه وینی؟ په دې اړه له ځان لاندې پوښتنې وکړئ:
• بل کوم کس دا کار سرته رسولی شي؟
• تر کومه حده کېدای شي حالت بد شي ؟
• تر کومه حده کېدای شي دا حالت ښه مخکې لاړ شي؟
• ایا تېروتنه به وشي؟
• ایا د هغه کار د سرته رسولو لپاره کاپي لېوالتیا لرم؟
• ایا پر ځان باور لرم؟
• ایا پر خپله ډله یا ګروپ باور لرم؟
څومره چې له ځانه ډېرې پوښتنې وکړی او هغه ته ښه ځوابونه ورکړی، هومره د خطر منلو د ارزونې او دا چې ایا دا خطر منل پر ځای دي او که نه، ښه چمتووالی نیول کېږي. ډېر کم داسې پېښېږي چې خطر منل به له ځان سره ارامي ولري او دا یوه اړتیا ده چې د هغه لپاره باید له خپلې محدودې امن ساحې راووځو. دا هماغه ځای دی کله چې تاسې لوی خطر منی، باید په هغه کې ژوند هم وکړئ. زه څو ځلې له داسې حالتونو سره مخ شوی یم چې د لوی خطر په منلو سره مې د وېرې او یو ډول اندېښنې احساس کاوه؛ خو پوهېږم چې د هغه لارې پیدا کولو ته اړتیا لرم چې خپله وېره او ډار پرې لرې کولای شم او بالاخره مې همدا کار وهم کړ.
دې لارې چارې مې وېره او ډار پاک له منځه یو نه وړل، خو دومره شوم چې خپله وېره مې پرې کنټرول کړه او ومې شوای کولای چې خطر ومنم. هغه لارې چارې دا دي:
۱ـ پېژندنه: زه څوک یاستم؟ زه هغه څوک یاستم چې د پرله‌پسې هڅې او کار سرته رسولو وړتیا لرم.
۲ـ اقدام: کوم کار به سرته رسوم؟ اقدام وکړئ او د احساساتو په نظر کې نه نیولو سره هغه څه تر سره کړئ، چې سم دي.
۳ـ احساسات: څنګه به پرمختګ وکړم؟ د خپل اقدام په واسطه به خپلو احساساتو ته نوی رنګ ورکوم؛ خو زما موندنه څه ده؟ هر ځل مې چې په جرئت سره عمل کړی او پر ځای د دې چې احساساتو ته مې د دخالت اجازه ورکړم، هغه کار مې سر ته رسولی چې سم و او ارادې مې پر وېرې غلبه کړې ده. دې وېرو زما لمن هېڅ وخت نه ده پرې ایښې، خو دا یې هم نور نه دي کړي چې زما کنټرول په لاس کې واخلي.
غیر مسلکي کس پر دې باوري وي چې لومړی باید وېره له منځه یوسي، څو بیا وشي کولای چې کار تر سره کړي. خو مسلکي کسان بیا پوهېږي چې هېڅ وخت نه شي کولای چې کاملاً پر خپله وېره برلاسي شي.
زه دا خبره منم او وایم، دا چې موږ نه شو کولای کاملاً پر وېره برلاسي شو، باید له هغه سره د چارچلند ډول زده کړو. زه دې چارچلند ته له امن ساحې بیرون د ارامۍ احساس کول وایم.
له خطر سره د مخ کېدو او پر هغه د برلاسۍ لپاره باید خپل احساسات او شکونه کنټرول کړو. زه په بېلابېلو موقعیتونو کې د پرله‌پسې بریا تر لاسه کولو چې لوی خطر منلو ته اړتیا لري، کوښښ کوم چې له خپلې محدودې امن ساحې بیرون د ارامۍ احساس وکړم. څنګه دا کار کوم؟
• په هینداره کې نه ګورم، څو داسې احساس ونه کړم چې ظاهراً ښه نه ما لومېږم .
• ماتې مې نه شمېرم، د هغه پر ځای له هغه اخیستل شوي درسونه شمېرم.
• کم مې پر وېرو او ډېر مې پر موخو تمرکز کوم.
زه وایم، هرڅه د رهبرۍ په واسطه مخکې ځي او شا ته پاتې کېږي. د دې جملې د الفاظو تر شا اصلي هدف د خطر منل دي. رهبر هم باید د خطر منلو ځانګړنه ولري، که غواړی چې یو سخت څه تجربه کړی، باید یا یو ښه رهبر و اوسئ او یا هم یو ښه همکار پیدا کړئ.

# برېښنا شرکت د پروژو په تمویل کې له جدي ستونزو سره مخامخ دی

برېښنا شرکت وایي، سږکال په خپلو پلانونو کې د برېښنا تولید او لېږد ۵۰ پروژې لري، چې تر ټولو مهمه یې کابل ته د ترکمنستان د ۵۰۰ کیلو واټو برېښنا مزي غځول دي.
د یاد شرکت مسوولین وایي، سږ کال د دغو پروژو د تمویل لپاره نړیوالې ژمنې له ځان سره لري، خو د انرژۍ برخې یو شمېر کارپوهان وایي، برېښنا شرکت سږ کال له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې د مرستو کمولو له کبله د خپلو پروژو تمویل کې له جدي کمبود سره مخ دی.
دوی وایي، سږ کال به برېښنا شرکت و نه توانېږي چې ګاونډیو هېوادونو ته د لېږدېدونکې برېښنا لپاره پیسې ور کړي.
کابل ته د ترکمنستان د برېښنا د مزو راغځول، له غزني نه کندهار ته د برېښنا د مزو غځول او د بامیانو د دوشي برېښنا د پروژې بشپړېدل؛ هغه مهمې پروژې دي چې سږکال باید بشپړې شي.
برېښنا شرکت وایي چې په دغو پروژو کې پنځوس پروژې شاملې دي، چې څه باندې یو میلیارد ډالره لګښت غواړي او د عملي کېدو لپاره یې مالي ژمنې شوې دي.
په ورته مهال د برېښنا شرکت اقتصادي سلاکار مصطفی اریا وایي: «مهمه پروژه چې اوس پرې کار روان دی، د کجکي بند د برېښنا لېږد دی کندهار ښار او د هلمند لښکرګاه ته چې سږ کال به تمام شي.»
خو د انرژۍ برخې یو شمېر کارپوهان د سږکال مالي ستونزو ته په پام سره وایي، چې دا شرکت به په دې ونه توانېږي چې ان ګاونډیو هېوادونو ته شاوخوا درې سوه میلیونه ډالره ورکړي.
دوی وایي، چې د برېښنا شرکت په چارو کې پڅوالی د دې لامل شوی، چې تېرکال د مرستو ډېرې پیسې له لګولو پرته بېرته مرستندویو هېوادونه ته وګرځول شي.
د انرژۍ برخې کارپوه فیض محمد ځدراڼ څرګندوي: «د برېښنا شرکت د کال درې سوه میلیونه ډالره باید ګاونډیو هېوادونو ته د برېښنا د صرفیې بل ورکړي او د شرکت لګښت تر حقوقو پورې تر پنځو میلیونو ډالرو پورې رسیږي، نو دا شرکت نه شي کولی دا لګښت د بل له صرفیې چې هغه هم ډېر کم دی ورکړي.»
په ورته مهال د ولسي جرګې یو شمېر غړي په برېښنا شرکت کې د مدیریت کمزورتیا ته په پام سره وایي، چې دا شرکت خپل عواید په سمه توګه نه شي راټولولای.
د ولسي جرګې د مالي او بودجې کمېسیون غړی عظیم کبرزاني زیاتوي: «د برېښنا شرکت له کمزوري مدیریت سره نه شي کولی چې خپل عواید راټول کړي او پروژو کې هم ستونزې ډېرې دي.»

# مک کال: خلیلزاد د امریکا او طالبانو په هوکړه کې د تعدیل په موخه سیمې ته سفر پیل کړی

د امریکا د استازو جرګې د بهرنیو اړیکو د کمېټې مرستیال مایکل مک کال وایي، زلمي خلیلزاد د امریکا او طالبانو د دوحې په هوکړه کې د تعدیل د هڅو په موخه سیمې ته سفر پیل کړی دی.
مک کال له امریکا غږ سره په مرکه کې ویلي: «خلیلزاد د توافقنامې تغیر «تعدیل» غواړي، تر څو په افغانستان کې د امریکا متحده ایالتونو حضور تر مې میاشتې وروسته هم ومنل شي او د ملکي وګړو او افغان ځواکونو په وړاندې تاوتریخوالی راکم شي.» دا په داسې حال کې ده چې په امریکا کې د نوي حکومت له راتګ وروسته د خلیلزاد ماموریت تمدید شو. له هغه وروسته دا افغانستان او سیمې ته د خلیلزاد لومړنی سفر دی.
نوموړي ورمه ورځ له افغان ولسمشر اشرف غني، د ملي مصالحې له مشر ډاکتر عبدالله عبدالله او یو شمېر نورو سیاسي څېرو سره لیدلي د افغانستان د سولې په اړه غږېدلي دي. په ورته مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم په یوې اعلامیې کې ویلي، چې خلیلزاد به د دوحې ترڅنګ یو شمېر نورو هېوادونو ته هم سفرونه وکړي.
د امریکا او طالبانو د دوحې توافق په اساس ټاکل شوې تر راتلونکې مې میاشتې ټول امریکایي سرتېري له افغانستان څخه ووځي، خو د امریکا دفاع وزارت مخکې ویلي وو چې تر مې میاشتې وروسته له افغانستان څخه د امریکایي سرتېرو وتل په شرایطو پورې محدود دي.
له مې میاشتې مخکې له افغانستان څخه د ټولو امریکایي سرتېرو وتل، د القاعده شبکې او نورو تروریستي ډلو سره د طالبانو د اړیکو پرې کول او د تاوتریخوالي کمول د دوحې د هوکړې اساسي ټکي دي، خو د امریکا دفاع وزارت په دې وروستیو کې په خپل راپور کې ویلي چې طالبانو له القاعده سره خپلې اړیکې نه دي پرې کړې.
دغه راز د امریکا د استازو جرګې د بهرنیو اړیکو د کمېټې دغه جمهوري غوښتونکی غړی مک کال د افغان سولې بهیر د پرمخ وړلو لپاره وړاندیز کوي، چې طالبان باید له القاعده شبکې سره اړیکې پرې کړي او د ملکي خلکو له مرګ ژوبلې څخه ډډه وکړي، خو طالبانو بیا تر دې مخکې له القاعده شبکې سره د دغه ډلې د اړیکو په اړه راپورونه رد کړي دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د مارچ درېیمه | ۶۹۰یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۱ | ۱۸ | ۱۹ | ۲۷ | ۱۶ |
| ۲ | ۵ | ٦ | ۹ | ۱۱ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۷ | لمر ختل ۰٦:۲۱ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیګر ۰٤:۱۰ | ماښام ۰۵:۵۱ | ماخوستن ۰۷:۱۰

## نړۍ



اروپایي ټولنه او امریکا: ډېر ژر به پر روسیې نور سخت بندیزونه هم ولګول شي ۳

## تازه شمېرې: په نړۍ د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیونو او ۵۵۲ زرو واښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۱۵ میلیونه او ۱۰۳ زره او ۳۷۹ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۵۵۲زره او ٦۴۹ کسان مړه شوي او نږدې ۹۱ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۹ میلیونه او ۳۱۵زره او ٦۳۹ ته رسېدلي او ۵۲۷ زره او ۳۸٦ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۱ میلیونه او ۱۲۵ زره او ۸۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۰ میلیونه او ۵۸۹ زره او ٦۰۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د څلور میلیونه او ۲٦۸ زره او ۲۱۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د څلور میلیونه او ۱۸۲ زره او نهه مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي. فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي

## ګوترېش: نړیوال دې له جګړه ځپلي یمن سره بېړنۍ مرستې وکړي

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش له نړیوالو مرستندویانو غوښتي چې له یمن سره دې بېړۍ مرستې وکړي.

ګوترېش وایي، هیله لري چې د جګړه ځپلي یمن لپاره چې خلک پکې له سختې قحطۍ سره مخامخ دي، ۳ میلیارده او ۸۵۰ میلیونه ډالره بسپنه ټوله شي. په ورته مهال په یمن کې د سختو جګړو له کبله ډېریو سیمو ته د نړیوالو مرستندویو ادارو مرستې بندې شوي او سلګونه زره کسان له سختې لوږې سره شوي دي.

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوترېش د یوه انلاین کنفرانس په پیل کې چې د څه باندې سل حکومتونو او مرستندویو ادارو مشرانو پکې برخه درلوده، ویلي: «له ټولو مرستندویانو هیله کوم چې د بسپنې ټولولو لپاره د ملګرو ملتونو دغې غوښتنې ته په سخاوت ځواب ووایي.»

د یادونې ده چې حوثي یاغیانو چې ایران یې ملاتړ کوي، په ۲۰۱۴میلادي کال کې د یمن پر پلازمېنه او شمالي برخو ولکه ټینګه کړه او حکومت یې جلاوطنۍ ته اړ کړ. وروسته له هغې د یمن جګړې شدیدې شوې، کله چې د سعودي په مشرۍ ائتلاف د یمن له حکومت څخه په ملاتړ پر حوثي یاغیانو هوایي بریدونه پیل کړل. د راپورونو له مخې، په دغو بریدونو کې پر حوثیانو سربېره، ګڼ ملکیان هم وژل شوي دي.

## دوستم: نیروهای امریکایی باید بدون عجله و به گونه‌ی مسوولانه از افغانستان خارج شوند



زلمی خلیل‌زاد، نماینده ویژه امریکا در امور صلح افغانستان با مارشال عبدالرشید دوستم، رهبر حزب جنبش و معاون پیشین ریاست جمهوری دیدار کرد.

طبق اعلام عنایت‌الله بابر فرهمند معاون شورای عالی مصالحه ملی، مارشال دوستم در این نشست تأکید کرده است که نیروهای امریکایی باید بدون عجله و به گونه‌ی مسوولانه از افغانستان خارج شوند.

براساس توافق‌نامه دوحه که خلیل‌زاد آن را در دهم حوت سال گذشته با ملا عبدالغنی برادر، معاون سیاسی گروه طالبان امضا کرد، نیروهای خارجی باید در اول ماه می از افغانستان خارج شوند.

از جانب دیگر، عنایت‌الله بابر فرهمند گفته است که محور اصلی دیدار خلیل‌زاد با مارشال دوستم بحث روی تسریع روند مذاکرات صلح، نقش ایالات متحده امریکا و به وجود آوردن اجماع میان رهبران و سیاسیون در مورد آینده مذاکرات و افغانستان بوده است.


به گفته فرهمند، زلمی خلیل‌زاد در این نشست روی اجماع رهبران و توحید دیدگاه‌های آن‌ها در مورد مذاکرات صلح و آینده کشور تاکید کرده است.

فرهمند گفته است که خلیل‌زاد درباره برگزاری یک نشست در «سطح بلند» نیز صحبت کرده و گفته است که این نشست برای موفقیت روند مذاکرات صلح کمک خواهد کرد.

از جانب دیگر، مارشال دوستم گفته است که در کنار به وجود آوردن اجماع ملی در مورد روند مذاکرات، در جبهه نظامی نیز برای دفاع از مردم آماده‌گی کامل گرفته شود.

## ژوند

## ستاسې ایډیال؛ ستاسې ژوند ته لوری ټاکي



کله چې خپلو موخو ته د ټولو لومړیتوبونو په سر کې ځای ورکوم، خپل لارښود د کتاب په پاڼو کې لټوم. کتاب موخو ته د رسېدو د سفر د پیل لپاره تر ټولو ښه ځای دی، زه تر اوسه د هغو لویو انسانانو له سپارښتنو څخه ګټه اخلم، چې هغوی یو مې هم نه دی لیدلی. خو پوهېږم که غواړم هغه کس شم چې زړه مې غواړي، باید هغه لارښود ولټوم چې تر ما د بریا په لوړو پوړونو کې ژوند کوي. ولې؟ ځکه موږ د هېڅا پیروي کولو وخت نه لرو، یوازې د خپل ځان پیروي باید وکړو. خو که مو یوازې د ځان پیروي وکړه، یه یو باطل ګرد اب کې به راګیر پاتې شو. موږ د هغو کسانو په څېر جوړېږو چې مینه ورسره لرو او هغه د ځان لپاره یو ایډیال ګڼو. په همدې خاطر باید د خپلو ایډیالانو په انتخاب کې پوره دقت وکړو. هغوی نه باید یوازې د تخصص له مخې د خلکو منځ کې ښه نوم او د زده کړو ښه مهارت ولري، بلکې د شخصیت له پلوه هم ښه کس وي.

## د هواوې تر ټولو ګران بیه ځیرک موبایل



هواوې کمپنۍ خپل نوې قاتېدونکې مخپاڼه لرونکی موبایل چې مېټ اېکس۲ نومول شوی دی، معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل یوه ۸ انچه ۲۴۸۰*۲۲۰۰ پکسله ریزلوشن لرونکې ستره او یوه ٦,۴۵ انچه بهرنۍ مخپاڼه لري، چې دواړې مخپاڼې یې له ۹۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې ۴ کامرې لري چې ۵۰ مېګاپکسله اصلي کامره، ۱۰ اېکس پرېسکوپ لېنز، ۱۲ مېګاپکسله زوم او ۱٦ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامرې پکې شاملې دي. کوچنۍ مخپاڼه کې یوازې یوه کامره ورکړل شوې او د ګوتې نښې سېنسر د دغه ځیرک موبایل ښي اړخ کې ځای پر ځای شوی ده. مېټ اېکس۲ کې د هواوې کمپنۍ کېرن ۹۰۰۰ پروسېسر، ۸ ګیګابایټ رم او ۵۱۲/۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ورکړل شوې ده او له ۵جي څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل کې ۴۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې، چې له ۵۵ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. د ۲۵٦ ګیګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۱۸۰۰۰ چینایي یوان او د ۵۱۲ ګیګابایټ فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه ۱۹۰۰۰ چینایي یوان ټاکل شوې ده.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډېټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

